مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۴/۰۴/۲۲

# د پوهنتون خاطرې

# (۳)




دنګ قد يې و. له سپين مخ يې ژيړ رنګ ته مايله ړيره داسې راتاوه وه لکه طلا پوش سپاهيان چې د کومې خزانې ساتنه کوي. د نازک فريم لرونکې عينکې يې په سترګو کولې. دا خوب صورته انسان نجيب نوميده. په سعودي کې يې له کومې جامعې د ليسانس سند ترلاسه کړی و او موږ ته يې فرعي مضمون (فقه) تدريساوه.

يوه ورځ مې ورسره يوه موضوع کې بحث شو. نپوهيږم چې استاد قناعت راکولو کې پاتې راغی او که زما د جذب قوه کمزورې وه؛ فکر کوم همدا دويم دليل بلکل سم و. دا نو داسې وخت و چې امتحان ته دوه درې ورځې پاتې وې. استاد سره جنجال اوږد شو چې ډير ستړی شو؛ نو اخر يې ويل: امتحان کې به دې زور معلوم شي!
ما ويل استاده! پردی حق ته نه خورې او خيراتي نومرې در څنې زه نه غواړم.

چې کله له جذباتو هوش ته راغلم؛ نو دې اخطار پس لړزې شروع کړې او انديښمن يې کړم. د امتحان ورځ راغله، پرچه مې په ټول دقت حل کړه، چې استاد ته مې سپارله؛ نو په مانا لرونکي انداز يې سترګو لاندې راوکتل. ما ويل که راته وايي: "... يَوْمَئِذٍ أَيْنَ الْمَفَرُّ"

زموږ پوهنتون کې ښه خبره دا وه چې پرچې په هماغه ورځ کتل کيدې او په هماغه ورځ نومرې اعلانيدې. استاد له ټولو پرچې ټولې کړې او بيا خپلې شعبې ته ننوت. موږ څينو محصلينو د شعبې مخې ته دهليز کې قدم واهه، لکه څوک چې پرته له ټلويزيوني معايناتو د لومړي ځل لپاره ميرمن زيږنتون ته راولي او بيا نتيجې ته وارخطا وي.
شيبه وروسته استاد راووت. شايد لومړی به يې زما پرچه کتلې وه. پرچه يې ښي لاس کې وه، لږ ډاډه شوم. ځان سره مې ويل:

"فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا"

استاد پرچه راکړه او په خندا يې وويل: ډير دقت مې وکړ؛ خو له ۹۷ دې نومرې کمې نشوې .مبارک دې شه.
چې کله خبريږم، پوهنتونونو کې څينې استادان له محصلينو سره ضد کوي، قصدا کمې نومرې ورکوي، مشکل تراشي کوي، په بحث او نيوکو ورسره دښمني پالي؛ نو ماته د دعوت او ج ه ا د پوهنتون هغه سپيڅلي، مخلص او مهربانه استادان رایاد شي .

زموږ ګران استاد نجيب که هرچيرته وي، تر او تازه دې وي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولۍ